# مسیر
ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومي دويمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۲مه | ۶۵۰مه گڼه


## څېره

۴ مخ



### ژان ماري گوستاو

د نوبل بنسټ وايي، لوکلزيو يو مبتکر او ځانگړی ليکوال دی. شاعرانه نانډری جوړوي، احساسات لېږدوي، خپله پښه له انساني محدودو اړوي او د يوه نوي انساني تمدن د جوړېدو او رامنځ ته کېدو په لټه کې دی.

## د ولسي جرگې او رولا غني کشمکش؛

### وکيلان: دلته نظام شاهي نه دی، د ولسمشر مېرمن هېڅ ډول قانوني صلاحيتونه نه لري



۳

### د چاودنو او وژنو پر مټ يو منفي بدلون ته زمينه برابرول

۲ مخ

### د کرونا نوي بڼې راپيدا کېدل او د واکسين په تطبيق کې د سرعت اړتيا

۲ مخ

### د نارينه وو د خيانت پنځه لاملونه

۵ مخ

## کرنې رياست: روان کال په خوست کې بېوزلو کسانو ته ۲۵۰ د چرگانو فارمونه جوړ شوي



د خوست ولايت د کرنې رياست چارواکي وايي، چې په دغه ولايت کې د چرگانو د روزنې او توليد صنعت ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دی .

د ياد ولايت د کرنې رياست د مالدارۍ او حيواني روغتيا امر روښان جلالي وايي، چې د خوست په مرکز او اړوندو ولسواليو کې د غوښينو چرگانو شاوخوا ۷۸۰ فارمونه شتون لري، چې په ورځني ډول نږدې له ۱۰ زرو تر ۱۵ زرو کيلو گرامه پورې غوښين چرگان بازار ته وړاندې کوي. جلالي وايي، روان ۱۳۹۹يم کال د خوست په عليشېرو او سپېرې ولسواليو کې د بنوالۍ او مالدارۍ ملي پروژې په همکارۍ ۲۵۰ فارمونه بې وزلو کسانو ته هم جوړ شوي او ترڅنگ يې د چرگانو روزنې اړوند توکي، د خوراکي توکو وېش، بې وزلو مېرمنو ته د ۱۴۴ هگيو چرگانو ورکړه، د ناروغيو ضد درمل، عامه پوهاوی او د همکارو پروژو له خوا د نويو فارمونو جوړښت هغه چارې دي، چې د کرنې رياست او اړوندو پروژو له خوا ترسره شوې دي.

## وزارت صحت عامه: شمار مجموعی جان باختگان ويروس کرونا در کشور، به ۲۰۸۹ نفر رسيده است



وزارت صحت عامه، از ثبت ۲۱۱ واقعۀ جديد بيماری کرونا در يک شبانه روز گذشته در کشور خبر داده و می گويد که تا کنون در افغانستان، تعداد واقعات مثبت ثبت شدۀ اين ويروس، به ۵۰۸۸۸ واقعه رسيده است.

وزارت صحت عامه می گويد که در يک شبانه روز گذشته، تست کرونا ۲۲۱٤ تن انجام شده، که نتيجه ازمايش ۲۱۱ تن شان مثبت ميباشد. منبع افزوده است که با ثبت اين آمار، تعداد مبتلايان به اين ويروس در افغانستان، تا کنون به ۵۰۸۸۸ تن افزايش يافته است.

در خبرنامۀ اين وزارت آمده است ۷۸ تن در هرات، ۳۹ در کابل، ۱۹ در ننگرهار، ۱۵ در لغمان،۱۰ در غزنی، ۷-۷ در کندهار و فارياب، شش در خوست، پنج-پنج در بلخ، پکتيا و کنر، چهار در ارزگان، سه-سه در بدخشان و پکتيکا، دو-دو در نيمروز و زابل و يک هم در ولايت سرپل به ويروس کرونا مبتلا شده اند.

براساس معلومات خبرنامه، در يک شبانه روز گذشته، ۵٤۳ فرد مبتلا به ويروس کرونا، دوباره صحت ياب شده و شمار مجموعی بهبود يافتگان اين ويروس، به ۳۹۷۰۱ نفر می‌رسد. همچنان وزارت صحت گفته است که در ۲٤ ساعت گذشته، ۱۵ تن به اثر ابتلا به (کويد- ۱۹) فوت کرده و از آغاز شيوع ويروس کرونا تاکنون در افغانستان، شمار مجموعی جان باختگان از اثر اين بيماری، به ۲۰۸۹ نفر رسيده است.

## مصالحې شورا: د سولې خبرې دې له ځنډ پرته پر ټاکلي وخت بېرته پيل شي



۵ مخ

## ذاکرزاده: د افغانستان سوله د ټولې سيمې له ثبات سره مرسته کولی شي

تاجکستان وايي، دوی په افغانستان کې د سولې له رواني پروسې په بشپړه توگه ملاتړ کوي.

د تاجکستان د پارلمان رييس محمد طاهر ذاکرزاده د ملي مصالحې عالي شورا له رييس ډاکتر عبدالله عبدالله سره د ليدنې پر مهال ويلي، چې د افغانستان سوله د ټولې سيمې له سولې او ثبات سره مرسته کوي. د ده په خبره، تاجکستان د سولې له هغه بهير بشپړ ملاتړ کوي چې د افغانانو په مشرۍ او مالکيت ترسره کېږي. نوموړي همدا راز ټينگار کړی چې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ اړيکې بايد لا پراخې شي او د دواړو هېوادونو پارلمانونه دې په خپلو کې ليده کاته ډېر کړي.

بلخوا د ملي مصالحې د عالي شورا رييس عبدالله عبدالله هم ويلي چې د افغانستان د سولې په مسئله کې د سيمې د هېوادونو همکاري خورا مهمه ده. هغه تاجکستان د افغانستان ښه گاونډی بللی او ټينگار يې کړی چې دواړه لوري به په بېلو برخو کې خپلې اړيکې پراخې کړي. د يادونې ده چې د ملي مصالحې عالي شورا رييس تر دې وړاندې هم د سولې په تړاو د سيمې او نړۍ هېوادونو ته سفرونه کړي او هڅه کوي چې د سولې د روان بهير په تړاو اجماع پياوړې کړي.


Aksos

اکسوس کتابپلورنځی

Aksos Book Store

Add a Book to Your Life

دهبوريو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

aksosbookstore@gmail.com

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

Aksos Book Store

## سرلیکنه

# د چاودنو او وژنو پر مټ یو منفي بدلون ته زمینه برابرول

پرون یو ځل بیا د کابل او کندهار په ګډون په ځینو ولایتونو کې چاودنو او بریدونو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اړولې ده. په کابل ښار کې خو چسپکي ماینونه او چاودنې ورځنۍ چاره ګرځېدلې ده. چارواکي طالبان پړه ګڼي، خو طالبان نه یوازې دا چې په ډېری دغو پېښو کې لاس لرل ردوي، بلکې حکومت پړ ګڼي. اوس هره ورځ وژنې او چاودنې کېږي، خو لامل یې معلوم نه دی او هېڅوک یې مسوولیت نه اخلي. له همدې امله وژنې شته، خو وژونکي پټ دي او ځان نه ښکاره کوي. پړ څوک دی او څوک نه دی، دا یو اړخ، خو هره ورځ خلک وژل کېږي چې باید د دې وژنو مخه ونیول شي.

د بریدونو پر تخنیکي اړخ او دا چې ولې امنیتي اداري نه شي کولی مخه یې ونیسي، ډېر بحث نه کوو؛ ځکه چې دا یوازې یو تخنیکي بحث نه دی، بلکې د سیاسي موخو لپاره د چاودنو، چسپکي ماینونو او وژنو دا لړۍ روانه ده. ښایي له تخنیکي اړخه وواېو چې امنیتي اداري سمې نه رهبري کېږي او د سیاسي تړاونو پر اساس ګومارل شوو مسوولینو امنیتي اداري کمزورې کړې دي، خو د دې ټولو تخنیکي دلایلو او ستونزو تر شا مهم او اساسي دلایل سیاسي دي؛ ځکه چې دا سیاسي موخې دي چې پر امنیتي پېښو، تګلارو، کمزوریو او بریاوو مخامخ اغېز کوي.

د ښارونو بریدونه وژونکي او وېروونکي دي. په خلکو کې یې وېره خپره کړې ده. د کابل له ځنډو او لرې پرتو سیمو ځینې خلک د ښار منځ، نږدې او نسبتاً امن سیمو ته ګډه کېږي، خو په وروستیو کې بریدونه هلته هم ور غځېدلي او آن په هغو سیمو کې هم د چسپکي ماینونو چاودنې شوې چې ډېرې خوندي ګڼل کېدلې. دغو بریدونو له رواني اړخه پر خلکو سخت فشار راوستلی دی. خلک چیغې وهي، د امنیت غوښتنه کوي، خو غږ یې بې ځوابه او یا ناسم ځوابه دی. د دغه حالت دوام به خلک لا زیات په تکلیف او ستړي کړي. ښکاري چې په ښارونو کې د بریدونو، چاودنو او وژنو دا لړۍ د همدې لپاره پیل شوې وي چې خلک د همداسې ژور فشار، وېرې او ناهیلۍ احساس وکړي. هغوی چې په افغانستان کې اصلي لوبه پر مخ وړي، یو ډراماتیک، عجیب او غریب بدلون راولي. دا بدلون سم نه دی او د خلکو له سخت غبرګون سره مخ کېدلی شي. اوس له همدې کبله چې خلک غبرګون ونه ښیي او دا بدلون په ښه ډول عملي شي، د چاودنو، وژنو او بریدونو دا لړۍ پیل شوې ده. دا وژنې او چاودنې په تر هغو دوام وکړي او ښایي زیاتې شي چې خلک خپله د یوه لوی بدلون غږ وکړي او بیا له دغو وژنو د خلاصون لپاره هر منفي بدلون ته غاړه کېږدي. پر همدې بنسټ د وژنو او چاودنو یوه داسې لړۍ یې پیل کړې چې وژونکي یې معلوم نه دي، خو د خلکو په زړونو او ذهنونو کې وېره او وحشت خپروي.

د افغانستان خلکو ته پکار ده چې د بریدونو اصلي موخه درک کړي او پوه شي چې دا بریدونه د سترو لوبغاړو لخوا پلانېږي څو یو منفي بدلون ته لاره هواره کړي. خلکو ته پکار ده چې ودرېږي، دغو بریدونو او وحشتونو ته تسلیم نه شي او د سولې پروسه داسې بریالۍ کړي چې جګړه پکې ختمه شي او مور ته بېرته عزت او خپلواکي را وګرځي.

# چرا هند از ۱۶ماه بدینسو در مورد پذیرش سفیر افغانستان سکوت اختیار نموده است؟

آژانس خبری پژواک

افغانستان از حدود دو ونیم سال به اینطرف، سفیری در هند ندارد و در ۱۶ماه گذشته، دو تن را رسماً به عنوان سفیر به این کشور معرفی کرده؛ اما هند تاکنون در مورد پذیرش آنها سکوت اختیار نموده است.

به ترکیه، تاجکستان، هالند و کویت نیز طی سالهای اخیر یک یک تن به عنوان سفیر افغانستان معرفی شده و آنها در حالی نپذیرفته اند که برخی آگاهان امور، ترس استخباراتی و در نظر نگرفتن معیارهای جهانی و دیپلوماتیک را عوامل نپذیرفتن افراد معرفی شده در تمام جهان از سوی کشورها می دانند.

بر اساس گزارش های پخش شده، شیدا محمد ابدالی در ماه سنبلۀ سال ۱۳۹۷ پس از شش سال، به عنوان سفیر افغانستان در هند استعفا داد.

دولت افغانستان، ولید تمیم را به تاریخ پنجم اسد سال ۱۳۹۸ به عنوان سفیر افغانستان در هند معرفی کرد؛ اما پس از سکوت هند در مورد پذیرش وی به عنوان سفیر، بتاریخ ۱۳ سنبلۀ سال روان، فرید ماموندوزی را به عنوان سفیر به این کشور معرفی کرد.

یک منبع وزارت خارجه گفت که پیش از فرید ماموندوزی، تصمیم گرفته شده بود که کاوون کاکر، به عنوان سفیر به کشور هند معرفی شود؛ اما «حکومت هند» با وی علاقمندی نشان نداده بود.

کاوون کاکر تایید کرد که رئیس جمهور همرای شان در مورد مقرری وی در هند به حیث سفیر افغانستان صحبت کرده بود، اما بعد از دو هفته وی خودش منصرف شد.

یک منبع دیگر به پژواک گفت: «متاسفانه هند به ارتباطات دیپلوماتیک احترام نمی گذارد، کسی را قبول دارد که خودش(هند) او را می خواهد.»

منبع همچنین گفت که در نپذیرفتن سه فرد یاد شده، خود وزارت امور خارجه هم دست دارد و این وزارت می خواست که داکتر نصیراحمد اندیشه معاون وزیر اداری و منابع را به عنوان سفیر در هند معرفی کند.

منبع یادشده افزود که پس از مخالفت های سیاسی، نصیراحمد اندیشه هم به عنوان سفیر هند انتخاب نشد و وی در حال حاضر، نمایندۀ افغانستان در دفتر سازمان ملل در جینوا انتخاب شده است.

منبع گفت که از حکومت هند می خواهد کسی را در هند به حیث سفیر افغانستان بپذیرد که عضویت جمعیت اسلامی را داشته باشد. منبع افزود که با این سه فرد، از خاطری هند موافقت نکرده که عضویت حزب جمعیت اسلامی را ندارند.

فرید ماموندوزی باشندۀ اصلی ولایت کنر است و به عنوان معاون تخنیکی شورای امنیت ملی و ارگان های محلی کار کرده است. ولید تمیم باشندۀ اصلی ولایت کاپیسا است و به عنوان معین گمرکات وزارت مالیه و رئیس عمومی نفت و گاز کار کرده و کاوون کاکر باشندۀ اصلی ولایت لغمان است که به حیث معاون رئیس دفتر و مشاور رئیس جمهور و مشاور وزیر عدلیه و ایفای وظیفه نموده است.

ودیر صافی آگاه امور سیاسی گفت، اینکه هند این سه نفر را به عنوان سفیر افغانستان به طور مکرر نپذیرفته است، به نظر می رسد که چیزی در پشت صحنه موجود است.

وی افزود: «احتمال دارد که [خانۀ داکتر عبدالله عضو حزب جمعیت اسلامی و رئیس کنونی شورای عالی مصالحۀ ملی] در هند می باشد و یک [زمان صلاح الدین ربانی سرپرست حزب جمعیت اسلامی، وزیر امور خارجه افغانستان بوده است؛ آنها به سفارت هند رفته باشند تا زمانیکه موافقۀ ما نباشد، (اگریمان) ندهید.»

ودیر گفت که این مشکل باید در اسرع وقت، توسط محمد حنیف اتمر وزیر امور خارجه افغانستان، با حکومت هند حل شود. این موضوع را با فریدون خوځون سخنگوی شورای عالی مصالحۀ ملی شریک کردیم؛ اما وی بدون ارایۀ جزئیات گفت: «نه، اگریمان خو حکومت هند می دهد.»

منصور خالق یار معاون سخنگوی وزارت امور خارجه، بدون ارایۀ جزئیات در این مورد گفت که هنوز هم وقت است و انتظار می رود که اگریمان فرید ماموندوزی بیاید و این مشکل حل شود. گران هیواد سخنگوی وزارت امور خارجۀ افغانستان گفت که هند در مورد پذیرش ولی تمیم به عنوان سفیر، سکوت اختیار کرده؛ اما انتظار می رود که اگریمان فرید ماموندوزی به زودی بیاید.

اگریمان؛ تایید خط و آغاز کار به عنوان سفیر در کشور میزبان که از طرف کشور دیگر به عنوان سفیر معرفی می شود؛ یا قرارداد شروع کار است که بر این اساس، شخص معرفی شده می تواند به عنوان سفیر آغاز به کار کند.

معرفی این افراد به عنوان سفیر افغانستان در هند و سکوت هند در این مورد را با سفارت هند در کابل از طریق واتسپ شریک کردیم؛ اما هنوز پاسخ نداده است. یک منبع در وزارت امور خارجۀ افغانستان که نخواست نامش گرفته شود، گفت: «در دو سال اخیر، کشورها بسیار حساس شده اند، اگر دیپلومات وزارت نباشد، اعتمادنامه (اگریمان) نمی دهند.»

منبع افزود که در سال جاری؛ فاروق وردک در ترکیه؛ در سال ۱۳۹۷ شاه گل رضایی در تاجکستان؛ در سال ۱۳۹۴ نورالحق علومی در هالند؛ و در سال ۱۳۹۴ محمد قاسم حلیمی در کویت، به حیث سفیران افغانستان معرفی شدند؛ اما کشورهای ذکر شده، آنها را نپذیرفتند.

وزارت خارجۀ افغانستان می گوید که نمی خواهد در رابطه به معرفی این چهارتن منحیث سفرای یاد شده، اظهارنظر کند. اما اکنون سیدرامین در ترکیه، محمد ظاهر غبار در تاجکستان، محمد آصف رحیمی در هالند و سید جاوید هاشمی در کویت، به عنوان سفیران افغانستان کار می کنند و به نظر می رسد که فاروق وردک، شاه گل رضایی، نورالحق علومی و محمد قاسم حلیمی، به عنوان سفیران افغانستان پذیرفته نشده اند.

فاروق وردک باشندۀ اصلی میدان وردک است و به عنوان وزیر معارف و وزیر دولت در امور پارلمان ایفای وظیفه نموده است. شاه گل رضایی باشندۀ اصلی ولایت غزنی و نمایندۀ مردم غزنی در ولسی جرگه است و نورالحق علومی که باشندۀ اصلی ولایت کندهار است، در حال حاضر در حکومتداری خوب به عنوان نمایندۀ ویژۀ رئیس جمهور کار می کند، و محمد قاسم حلیمی با شندۀ اصلی ولایت لوگر است که در حال حاضر، به حیث وزیر حج و اوقاف ایفای وظیفه می نماید.

مشتاق رحیم آگاه امور بین الملل در رابطه به نپذیرفتن سفیران از سوی کشورها گفت: «معمولاً کشورها می خواهند با افرادی کار کنند که در بخش کار کردن با آنها راحت باشند، آنها با وی مشکل نداشته باشند، چین و برخی کشورهای دیگر در رابطه به سفیران، ترس استخباراتی هم دارند، بعضی اوقات این هم سبب شده می تواند.»

رحیم افزود که دولت باید به زودی به هند سفیر معرفی کند تا روابط بین دو کشور بیشتر تقویت شود؛ زیرا که حضور سفیران یک موضوع مهم برای روابط در کشورها، به ویژه در کشورهایی است که افغانستان با آنها روابط سیاسی، اقتصادی و اجتماعی قوی دارد.

شهلا فرید استاد حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل گفت که کشورها در صورتی سفیران معرفی شده را رد می کنند که منافع دیپلوماتیک خود را در کار کردن به عنوان سفیر، در تاوان مشاهده کنند. وی افزود که در این اواخر، حکومت افغانستان در معرفی سفیران به کشورها، به معیارهای دیپلوماتیک و بین المللی توجه نمی کند، و سفیران را نیز از طریق یک ساختار سیاسی معرفی می کند.

# کریمي: د ملي دسترخوان پروګرام له پیل راهیسې له ۲۰ زرو ډېرو کورنیو سره مرستې شوې

د کلیو د پراختیا وزارت وایي، د ملي دسترخوان پروګرام له پیلېدو راپه دېخوا په ټولو ولایتونو کې له ۲۰ زرو ډېرو کورنیو سره مرستې شوې دي.

د دغه وزارت سرپرست مجیب الرحمن کریمي خبریالانو ته وویل چې د مرستو رسولو لومړی پړاو د افغانستان د ۱۲۳ ولسوالیو په نږدې ۱۳ زره کلیو بانډونو کې روان دی.

هغه زیاته کړې: « ۳ زره کلیو کورنیو ته پیسې لېږدول شوي. تر دې دمه ۲۰ زره او ۱۴۴ کورنیو ته مرستې رسېدلې. پر دې بنسټ ۱۴۱۸۰۰ وګړي له دغو مرستو برخمن شوي دي.»

د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت سرپرست زیاته کړې: «د ملي دسترخوان برنامې لومړی پړاو، دوه اونۍ مخکې په ټول هېواد کې پیل شو او تر دې مهاله



څه باندې ۲۰۱۴۴ کورنیو ته، بشري مرستې چې خوراکي او روغتیایي توکي پکې شامل دي، وېشل شوي دي.»

کریمي زیاته کړې چې هرې کورنۍ ته اوړه، وریژې، غوړي، لوبیا، نخود او صابون ورکول کېږي. د افغانستان د کلیو پراختیا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، د ملي دسترخوان پروګرام له پیله تر اوسه له ۱۱۲۰۰ کلیو نه د ۹۸۰۰ اړمنو کورنیو لېست چمتو شوی دی.

د ملي دسترخوان پروګرام د مرستو رسولو دویمه جوپه ۲،۵ میلیونو وګړو ته مرسته رسونه ده چې ۳۳۵ ولسوالیو کې استوګن دي او ۱۴۰ میلیونه ډالر پانګه ورته ځانګړې شوې ده.

افغان حکومت وایي، هوډ لري چې دغه پروګرام په شپږو مرحلو کې پلي کړي. دغه مرحلې د کرونا ویروس د لا خورېدو په اړه پوهاوی، خلکو ته د بانکي حسابونو پرانیستل، د کلیو په اړه د معلوماتو راټولول، د اړمنو کورنیو د شمېر معلومول، د مرستو رسولو لړۍ باندې د څار کمېټې او د مرستو رسول شامل دي.

د کلیو پراختیا وزارت وایي چې په راتلونکو درې میاشتو کې به د افغانستان د ټولو کلیو اړمنو کورنیو ته د ملي دسترخوان پروګرام له لارې مرستې ورسول شي.

تر دې مخکې نیوکې دا وې چې د یاد پروګرام پلي کېدو پرمهال به فساد وشي، خو ولسمشر غني تر دې مخکې ویلي وو چې فساد کوونکو ته به سخته سزا ورکړي.

# د کرونا نوې بڼې راپیدا کېدل او د واکسین په تطبیق کې د سرعت اړتیا

سیدالرحمن سالار

د برېټانیا حکومت د ډسمبر په ۱۴مه خبر ورکړ چې په هېواد کې يې د کرونا ویروس بڼه بدله شوې او دوی اوس د دغه بدلون د څرنګوالي په اړه پر څېړنو لګیا دي.

د اروپايي ټولنې په شمول ډېرى هېوادونو له برېټانیا سره پروازونه او تګ راتګ ځنډولي.

بل پلو روغتیاپوهانو ويلي چې تر اوسه داسې شواهد نشته چې د کرونا ویروس نوى ډول دې تر پخواني ډېر وژونکى وي او يا واکسين وربانديې اغیزه نه لري، خو د پخواني په پرتله يې د خپرېدو قدرت اويا سلنه زيات دى او دې کار حکومت او پوهان وارخطا کړي.

طب پوهان اوس دې پايلې ته رسېدلي چې د کرونا ویروس د مخنيوي لپاره يوازينى او معقوله لار واکسين دى. په هالنډ کې مېشت مشهور افغان ډاکټر، اسدالله ژرفين حبيبي وايي د کرونا ويروس د کنټرول او مخنيوي لپاره له واکسين پرته بل هېڅ انتخاب نشته.

نوموړي پر خپله فيسبوک‌پاڼه په خپره شوې ويډيو کې افغانانو ته په خطاب کې په نړۍ کې د کرونا ويروس د نوې بڼې را پيدا کېدو په اړه ويلي، چې د بشر په واک کې لا هم د دغه ويروس په اړه دقيق معلومات نشته؛ ځکه په دې برخه کې وخت په وخت بدلونونه رامنځ ته کېږي، خو د هغه په خبره، د ويروس نوى ډول د پخواني په پرتله ډېر قوي او د سرايت قدرت يې ډېر زيات دى چې په سپټمبر کې په انګلستان او د ډسمبر په لومړيو کې په هالنډ کې هم تشخيص شوى.

په ورته وخت کې د کرونا ويروس ضد واکسين جوړوونکو هم خپلې هڅې چټکې کړې، په انګلستان او امريکا سربېره، اوس چين هم ويلي چې تر اوسه يې له يو ميليون ډېرو کسانو ته واکسين تطبيق کړى او هېڅ منفي اغيزه نه ده رامنځ ته شوې.

د چين د واکسين جوړولو ځانګړې ټيم مسوول خوى ګانګ د ډسمبر په ۱۹مه په يوه مطبوعاتي غونډه کې اعلان وکړ، چې تر اوسه له يو ميليون ډېرو کسانو ته واکسين تطبيق شوى او منفي عوارض نه دي رامنځ ته شوي.

نوموړي ويلي چې اوس په چين کې د واکسين د سرتاسري تطبيق چارې پيل شوې او په لومړي پړاو کې به هغو کسانو ته تطبيق شي، چې لومړيتوب لري او ورپسې به د واکسين د توليد اندازې په زياتېدو سره به ټولو خلکو ته تطبيق شي.

خو په ياد خبر کې راغلي چې خلک بايد د واکسين له تطبيق وروسته هم طبي سپارښتنو ته جدي پاملرنه وکړي، ځکه د طب پوهانو په وينا، تر اوسه د هېڅ واکسين سل سلنه اغېزه نه ده ثابته شوې.

بل خوا د چين د بهرنيو چارو وزير وانګ يي هم د ډسمبر په ۱۸مه د يوې غونډې پر مهال وويل، چې هېواد به يې د کرونا وبا د مخنيوي په برخه کې نړيوالې همکارۍ وهڅوي .

د هند روغتيا وزارت هم تمه ښودلې چې په جنورۍ کې به د کوويډ- ۱۹ ضد واکسين د تطبيق کمپاين پيل کړي.

ايران هم ويلي چې په کور دننه يې د واکسين جوړولو کارونه چټک کړي او اوس د کلينيکي ازموينې لومړي پړاو ته داخل شوي.

د يادونې وړ ده چې په عربي متحده اماراتو، بحرين، پاکستان، برازيل او ځينو نورو هېوادونو کې هم د چيني شرکتونو لخوا د واکسين توليد چارې روانې دي، چې په ځينو هېوادونو کې نهايي مرحلې ته رسېدلې.

افغانستان کې که څه هم حکومت د واکسين جوړولو لپاره اقدام نه دى کړى، خو د حکيم الکوزي په نوم يوه افغان آن تېر کال د کرونا ويروس ضد واکسين او درملو د جوړېدو ادعا وکړه.

که څه هم افغان حکومت د نوموړي واکسين او درمل رد کړل، خو ياد حکيم لا هم د پلازمېنې په شمول په ډېرى ولايتونو کې خپله جوړ شوى واکسين او درمل ويشي.

اوس عمومي اندېښنه دا ده چې ښايي کلونه وخت ته اړتيا وي چې واکسين د نړۍ ټولو وګړو ته ورسېږي.

دې ته په پام سره چې په نړۍ کې څه باندې اووه ميلياړده انسانان ژوند کوي، په داسې حال کې چې که د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې د توليد شوي واکسين کچې ته پام وکړو، نو ښکاره ده چې د واکسين اندازه نسبت د ټولې نړۍ د انسانو شمېر ته ډېره کمه ده.

د رسنيو د معلوماتو له مخې، تر اوسه په ټوله نړۍ کې د کوويډ- ۱۹ ضد شاوخوا شل واکسينونه د کلينيکي ازموينې درېيم پړاو ته رسېدلي چې شپږ يې يوازې د چين دي.

خو د چين د واکسين جوړولو ټيم مشر څو ورځې وړاندې وويل چې د روان ميلادي کال تر پايه به دوى شپږ سوه ميليونه دوزه واکسين توليد کړي، په داسې حال کې چې د ياد هېواد يوازې خپل نفوس ۱۴سوه ميليونو تنو څخه زيات دى.

همدا ډول طبيعي ده چې د واکسين هر توليدوونکى هېواد به خپلو خلکو ته لومړيتوب ورکوي، چې په دې صورت کې به د افغانستان په شان مخ پروده يا وروسته پاتې هېوادونو برخليک څه کېږي؟

يونيسف د نوامبر په ۲۳مه اعلان وکړ چې د افغانستان او يمن په شان هېوادونو ته به دوه ميليارده دوزه واکسين برابر کړي، دا خبره پر خپل ځاى د خوښۍ وړ ده او افغان حکومت بايد په دې برخه کې خپلې هڅې ډېرې کړي او يونيسف دې قانع کړي چې څومره کېداى شي افغانستان ته پوره واکسين ورکړي، ځکه له واکسين پرته بله لار نشته او هسې نه چې خداى مه کړه بيا د نړۍ هېوادونه د افغانانو پرمخ خپلې دروازې وتړي.

# د ولسي جرګې او رولا غني کشمکش؛

## وکيلان: دلته نظام شاهي نه دى، د ولسمشر مېرمن هېڅ ډول قانوني صلاحيتونه نه لري



د دولت او ولسي جرګې تر منځ يو ځل بيا ناندرۍ رامنځ ته شوې دي. د ولسمشر غني مېرمنې رولا غني څو ورځې وړاندې په خپلو څرګندونو کې ويلي وو، چې د افغانستان ولسي جرګه د پلور او پېر په بازار بدله شوې ده او همدا راز يې ويلي وو چې د پارلمان تاييد او يا رد ورته مهم نه دى، بلکې رد شوي وزيران به هم خپلو دندو ته ادامه ورکوي. د ولسي جرګې غړو په پرونۍ غونډه کې رولا غني بې صلاحيته او مجهول المسووليته وبلله او ځينو ان د دې غوښتنه وکړه چې له نوموړې دې د افغانستان تابعيت واخيستل شي.

د ولسي جرګې غړو د خپلې تېرې ورځې په عمومي غونډه کې د امنيتي مسايلو تر څنګ، د ولسمشر د مېرمنې رولا غني پر وروستيو څرګندونو هم اوږده بحثونه وکړل. د ولسي جرګې غړو ادعا کوله چې رولا غني په خپله مرکه کې د افغانستان خلک (ناپوهه) بللي او تر څنګ يې د ملت کور ته سپکاوى کړى دى. د تېرې ورځې په غونډه کې د ولسي جرګې يوه غړي حبيب الرحمن پدرام وويل چې د لومړۍ مېرمنې په نامه کوم رسمي بست د افغانستان په قوانينو کې نشته او هغه بې صلاحيته ده. نوموړي وويل چې لومړۍ مېرمنې د افغانستان خلکو ته د ناپوهه خطاب کړى دى او د ملت کور ته يې سپکاوى کړى، چې بايد د عدلي او قضايي ارګانونو له لوري تعقيب شي. د ده په خبره: «هغې خلکو ته د ناپوهه خطاب کړى دى. اصلاً هغه څوک ده؟ په دې نامه بست يا کوم اداري تشکيل د افغانستان په قوانينو کې نشته دى. هغه څوک ده چې خبرې يې بايد دلته ارزښت ولري. ولسمشر ته دې خوشاله وي چې دا يې په زور دومره لويې خبرې کوي.»

د ولسي جرګې بله غړې راضيه سعادت منګل هم وايي چې د ولسي جرګې غړي بايد د رولا غني د څرګندونو پر وړاندې ودرېږي. هغې هم ټينګار وکړ چې د لومړۍ مېرمنې په نامه بست او يا دفتر هېڅ ډول قانوني حيثيت نه لري او بايد پر وړاندې يې اقدام وشي. د ولسي جرګې ډېرو نورو غړو هم پر دې څرګندونو نيوکې کړې دي او په خبره يې د رولا غني څرګندونې غير مسوولانه او له سپکاوي ډکې دي. د ولسي جرګې ځينو غړو پر دې ټينګار وکړ چې بايد د رولا غني د دفتر د لګښتونو، عوايدو، مالي ملاتړ او نورو سرچينو په اړه څېړنې وشي او ښکاره دې کړل شي چې لګښتونه يې له کومه ځايه تامينېږي. همدا راز ځينو نورو وکيلانو بيا ټينګار کاوه چې له هغې دې د افغانستان تابعيت واخيستل شي.

د ولسي جرګې رييس مير رحمان رحماني بيا وايي چې رولا غني د افغانستان پارلمان ته نه ښښل کېدونکى سپکاوى او بې احترامي کړې ده. د نوموړي په خبره، رولا غني د دې پر ځاى چې د مقننه قوې صلاحيتونو او همدا راز د واک اصلي خاوندانو ته درناوى وکړي، برعکس يې ((نه ښښل کېدونى سپکاوى او بې احترامي کړې ده)).

رحماني همدا راز وويل چې رايه ورکول د وکيلانو حق دى او خپله خوښه يې ده چې چا ته د تاييد او چا ته د رد رايه ورکوي. نوموړي ټينګار وکړ چې رد شوو وزيرانو به ارو مرو د دې وړتيا نه لرله چې د پارلمان د باور رايه خپله کړي. له همدې امله له دې فلتر په تېرېدو نه دي بريالي شوي. مير رحمان رحماني هم وويل چې د ولسمشر د مېرمنې حقوقي او اداري هويت او موقعيت په هېڅ رسمي سند کې نشته او نه هم تر اوسه د نوموړې صلاحيتونه قوانينو توضيح کړي دي. هغه ټينګار کړى چې د ولسي جرګې له هويت به دفاع کوي او د مېرمن رولا غني څرګندونې بايد د با صلاحيته مراجعو له لوري وڅېړل شي. رحماني يو ځل بيا پر ولسمشر غږ وکړ چې د رد شوو وزيرانو پر ځاى ژر تر ژره نور وزيران ور معرفي کړي او که داسې ونه کړي، نو دوى به له خپلو صلاحيتونو استفاده وکړي.

# د امريکا پوځ: که ايران د سليماني د وژنې د غچ هڅه وکړي، له سخت ځواب سره مخ شي

د امريکا د مرکزي قوماندانۍ قوماندان کينت مک کينزي خبرداری ورکړی، که ايران د قدس ځواکونو د پخواني قوماندان، قاسم سليمان د مړينې د لومړني تلين د لمانځلو په مناسبت کوم بريد وکړی، امريکا په سيمه کې د خپل ځان، ملګرو او همکارانو دفاع کولو ته چمتو ده. جنرال کينزي ويلي: «که اړتيا يې وي، موږ غبرګون ښودلو ته چمتو يو».

دغه امريکايي جنرال د يو نامعلوم ځاى نه خبريالانو ته د ټيليفون له لارې په مرکې کې ويلي: « که ايرانيان او يا د هغوي لاسپوڅي کوم عمل وکړي، زما ارزيابي دا ده چې موږ په ښه موقف کې يو او د هر څه لپاره چمتو يو».

کينت مک کينزي دا ونه ويل چې ايران ښايي څه ډول عمل وکړي، خو کله چې تېر کال امريکا په بغداد کې د قدس ځواکونو پخوانی قوماندان قاسم سليمان د بې پيلوټه يا ډرون الوتکې په بريد کې وواژه، ايران په عراق کې څو نظامي اډې وويشتې چې امريکايي ځواکونه پکې ديره وو.

مکينزي همداراز چې تازه يې بغداد ته په سفر کې د جهادي ډلو پر ضد د ائتلافي ځواکونو د مشر امريکايي جنرال پال کالورټ او د عراق د پوځ د لوی درستيز عبدالعامر يارالله سره هم کتلي دي.

د امريکا د مرکزي قوماندانۍ قوماندان زياته کړې چې په سوريه کې يې د امريکايي ځواکونو سره هم کتلي دي. دغه امريکايي ځواکونو له عراق او اردن سرحد سره نږدې د الطانف په اډې کې ديره دي.

د قاسم سليماني د وژل کېدو په تړاو د امريکايي چارواکو اندېښنه له دې نه هم څرګندېږي چې سيمې ته د مکينزي د سفر په هکله هېڅ ډول معلومات نه دي شريک شوي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا د لوی درستيزانو د کمېټې عمومي مشر جنرال مايک ميلي هم تېره اونۍ، قطر، سعودي عربستان، عربي متحده اماراتو، اسراييل او افغانستان ته سفر کړی و، خو تر څو چې دغه امريکايي جنرال له سيمې نه وتلی نه و، د سفر په هکله يې هېڅاته معلومات نه وو.




سره له دې چې د امريکا پوځ ويلي، د ولسمشر ټرمپ په لارښوونې له افغانستان او عراق نه د عسکرو شمېر کموي، خو د دفاع وزارت د عراق په شاوخوا کې خپل حضور قوي کړی چې ايران وډاروي چې بريد ونه کړي.

## د کتــاب خبـرې

# د جاسوسۍ پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### درېيمه برخه
### کشمير




۱۰

**د امان الله گيلگيتي د ازادۍ خوبونه**

سېنها: له صلاح الدين يا امان الله سره مو يو وخت کتلي دي؟
دوراني: هو له امان الله سره مې کتلي دي. د دوی پاڅون چې پيل شو، موږ شېبې شمېرلې چې څه به کېږي؟ امان الله د مقاومت پخوانی جنگيالی و، د ده درېيمه لاره (خپلواکي) بد انتخاب نه و. خو ځينې پاکستانيان، په تېره بيا اسټېبلېشمېنټ( پوځ او استخبارات) زړه نا زړه وو. دا نو له ده سره بې انصافي وه چې د ځينو بېخي ښه نه ايسېده او کمزوری ملاتړ يې ترې کاوه. د ده ځينې خبرې او کړنې ما ستايلې. مثلاً، ډېر منظم او دين ته ژمن انسان و.
امان الله چې له موږ خوابدی و، په حقه و. زموږ او کمزوري ملا دا غوښتنه چې کشمير دې د پاکستان برخه شي، پر «صدر سردار قيوم» ډېره سخته تمامېده. موږ له جماعت اسلامي سياسي ملاتړ کاوه، دوی بايد زموږ دا شعار بدرگه کولای چې «کشمير بنيگا پاکستان» مطلب کشمير به د پاکستان برخه کېږي. موږ ورته ويل چې هو وروره امان الله، ته په حقه يې او هغه بل ملگری هم په حقه دی؛ خو موږ د امان الله هغه ډول قدر چې مستحق يې و، نه کاوه او دی پر دې خبره ښه پوهېده، دی په حقه و. زموږ پر غلطيو زما ډېر وروسته سر خلاص شو. دا نو هغه وخت و چې اوبه له ورخه تېرې وې او شخصاً زما له لاسه هېڅ هم پوره نه وو.
سېنها: مطلب، هغه د ISI د خوښې سړی نه و؟
دوراني: يقيناً دی د ISI ښه نه ايسېده. نه د ISI ښه ايسېده او نه هم د پاکستان. د اخلاقي قضاوتونو کول زموږ کار نه و. موږ بايد پراگماټيک وای چې که کشمير ازادېږي، نو کوم هېواد به ډېر تاوان کوي؟ زما خپل نظر دا و چې هند ډېر تاوان کاوه، ځکه هند ډېر څه درلودل. کشميريان شېبته - اويا کاله د هند تر سلطې لاندې وو، خو بيا يې هم ازادي غوښته. دغه احساس او دې نظريې ته بايد په درنه سترگه کتل شوي وای.
زه په دې خبره پوره باور لرم چې که کشمير ازاد شي، دوی به له هند سره ښې اړيکې ساتي. د بېلا بېلو لاملونو له مخې به کشمير له چين سره هم راشه درشه ولري؛ خو د کشمير زړه به د دوی له لوېديځ گاونډي سره پيوند وي. ځکه نو که څوک د ازادۍ خبرې کوي موږ ته هېڅ سرخوږی نه جوړېږي. له همدې کبله خو امان الله موږ سم و نه پاله.
دولت: د کشمير خپلواکي پاکستان ته د منلو نه ده.
دوراني: د هند د اساسي قانون ۳۷۰ مه ماده کشمير ته ځانگړې شوې ده. زموږ له نظره کشمير يو بل ډول ايالت دی، خپل ولسمشر او لومړی وزير لري. دا سمه ده چې له هند سره يې کرنسي يوه ده او اداري جوړښت يې ورسره يو شان دی؛ خو که کشميريان د خپلې ازادۍ پرېکړه وکړي، نو ډېر به وو ايي، چې ولې نه؟ موږ تل ادعا کوو چې د کشميريانو زړونه له موږ سره دي، نو خپلواک کشمير به زموږ تله درنه تلي. زه خپله د کشمير له خپلواکۍ سره ستونزه نه لرم.
دولت: خو اسټېبلېشمېنټ يې ورسره لري.
دوراني: اسټېبلېشمېنټ په دې برخه کې ډېر محتاط دی. ځينې خو دا چټياټ هم وايي چې خپلواک کشمير به فاجعه وزېږوي.
دولت: د ښې منځ دې وويشت.
سېنها: د فاجعې زېږولو دليل څه دی؟
دوراني: پارانويا (پارانويا اصلاً يوه يوناني کلمه ده او مانا يې لېونتوب دی.)
دولت: لېونتوب؛ او بله دا چې ايا کشميريان د باور وړ دي؟ ايا پر هغوی باور کېدای شي؟
دوراني: ځينې وايي پر کشميريانو باور نه شي کېدای.يوازې پاکستانيان دغه مشکل نه لري، په نيمې لويې وچې او بلکې په ټولې نړۍ کې عام باور دی چې له خپل ځان پرته پر بل هېڅا باور نه شي کېدای. په پاکستان کې پنجابيان، پښتنو او بلوچانو ته د شک په سترگه گوري، په دې وروستيو کې خو پر مهاجرو (د هند) شکونه هم کوي. پنجابيان وايي موږ غټ قشر يو، استعماري برېټانيا او مغلو ته هم وفادار وو؛ خو خپله موږ او پښتنو د نورو چوپړ هم کاوه، نو ولې دوی (پښتنو او بلوچانو) ته د ډېرو باوري خلکو په سترگه وکتل شي؟
يو هم داسې فکر نه کوي چې گڼې خپلواک کشمير به دوی ته ښه وي. له دوی سره د منگلا ډېم (منگلا د اوبو او برېښنا بند) غم دی. که کشمير خپلواک هېواد شي، نو د منگلا ډېم اوبه به له يوه بل هېواده راځي.
يوه هوښيار انسان ته به ښايي دا ډېر پوچ دليل ښکاره شي: «که کشمير خپلواک هېواد شي، نو ډېرې بهرنۍ مرستې به ورسره وشي او بهرني سرتېري به هلته مېشت شي؛ امريکا، جرمني، جاپان ټول به هلته ور وکتېږي. دوی به پر کشمير د پيسو باران وکړي، ځکه کشمير له سټراټېژيکي پلوه مهم ځای دی. دوی به دلته کټ مټ هماغسې اډې جوړې کړي چې په افغانستان کې يې جوړې کړې دي. پاکستان او هند به پر کشمير ډېر نفوذ نه لري او کشمير به د پياوړو غربيانو لاسونو ته ولوېږي. ځکه نو زه پر خپلو ټولو جگپوړيو مقاماتو غږ کوم چې د خپلواک کشمير پر انتخاب بحثونه وکړي. د دې لوبې سناريو بايد بدله شي. که کشميريانو ته د خپلواکۍ انتخاب ورکړل شي او ډېر کشميريان څه، ان که يوه وړه برخه يې هم وغواړي، نو بايد ازادي ورکړل شي. **دوام لري...**

# ژان ماري گوستاو

شفيق اميرزی



ژان ماري گوستاو لوکلزيو مشهور فرانسوی ليکوال دی چې په ۲۰۰۸ کال کې يې د نوبل جايزه گټلې ده. هغه د غوره ليکنو، کيسو او ناولونو د ليکلو له امله مشهور دی. له تنکۍ ځوانۍ يې ليکوالي پيل کړه او د ۲۳ کلونو و چې خپل لومړنی ناول يې خپور کړ. په همدې کال کې يې ناول دومره له تاوده هرکلي سره مخ شو، چې د پرېکس رېنودوت جايزه يې هم وگټله. ژان ماري په ۱۹۴۰ کال کې د فرانسې په جنوب کې په يوه بندري ښار نيس کې زېږېدلی دی، خو ليکنې او ادبي پنځونې يې له دې ښار او فرانسې وتلې په ټوله نړۍ کې مشهورې دي.
ژان ماري گوستاو لوکلزيو په ۱۹۴۰ کال کې د فرانسې په جنوبي ښار نيس کې زېږېدلی دی. کورنۍ يې ان په اتلسمه پېړۍ کې له موريس جزيرې دې سيمې ته کډه شوې وه. لومړنۍ زده کړې يې په همدې ښار کې وکړې او بيا يې په همدې نېس ښار کې پوهنتون ولوست. په ۱۹٦۳ کال کې لا دې درويشتو کالو و، چې خپل لومړنی ناول يې د (Le Proces Verbal) په فرانسوي ژبه خپور کړ. په همدې کال کې يې دغه کتاب مشهوره ادبي جايزه هم وگټله. ناول يې د نقادانو او لوستونکو له خورا تاوده هرکلي سره مخ شو او ده ته يې د لا ډېرو ليکلو او خپرولو زمينه برابره کړه.
پلار يې انگليس او مور يې فرانسوۍ وه. ويل کېږي چې د ژوند لومړي کلونه يې په انگلستان کې تېر شوي دي. غوښتل يې په انگليسي ژبه ليکل تجربه کړي، خو په تنکۍ ځوانۍ کې يې خپل لومړنی اثر په فرانسوي ژبه خپور کړ. دی وايي، فرانسوي ژبې دا مرسته ورسره وکړه چې پخوانی فرهنگ ولولي، له لرغوني فرهنگ سره اشنا شي او له خپل فرانسوي فرهنگ سره ځان ورته تر نورو يو څه بېل ښکاره شي. وروسته ډېر سفرونه، ټولنې ته دې ده ليدلوری او نور موارد د دې سبب شول چې له فرانسې يو څه واټن پيدا کړي. مديترانه‌يي هويت يې ځان ته خپل کړ، خو وروسته وروسته له صنعتي ټولنې او نړۍ د ده کرکه د دې سبب شوه چې مديترانه‌يي هويت يې هم کمرنگه شي. هغه له صنعت او ظالمانه صنعتي پرمختگ کرکه لري او هغه د بشريت لپاره د ستونزو زېږوونکی بولي. دی پخپله په يوه مرکه کې وايي: «زه په جزيره کې ژوند کوم، باروړونکې بېړۍ وينم چې يوه او بله خوا ځي. داسې نه ده چې زه به يوازې د يوه ښار وم، يا د يوه کلي يم، يا داسې چې د هېڅ ښار او کلي به نه وم، زه د هر کلي او هر ښار يم، فرانسه مې يوازې د اوسېدو ځای دی».
د ۱۹٦۵ او ۱۹۷۵ کلونو تر منځ دوې مسئلې د ليکوالانو د تمرکز وړ وې: يو ژبه او بل ماده. دوی به ويل، يوازې هغه مفکوره او ايډيا موجوده ده چې هغه وليکل شي او يا بيان کړل شي. په دې مانا کومه مفکوره چې ليکل شوې نه وي، هغه شته هم نه. دوی به ويل، حسونه او احساسات کولی شي موږ تېر باسي، نو يوازې په شته مفکورو بايد باور وشي. دوی په دې باور وو چې کلمات شفاف دي او د چارو په درک کولو کې له انسان سره مرسته کولی شي. په لومړي سر کې ژبني بيان د نړۍ واقعيتونو ته لاسرسی اسانه کاوه، د دې تر څنگ يې بيا غربي فلسفه او ژبه واقعيتونو ته د لاسرسي تر ټولو ښه لار گڼله. نو ځکه انسان کله کله د پېچلو مسايلو په حل کې له ستونزو سره مخ کېږي، ځکه هغه مهال يوازې غربي فلسفه او ژبه د حل کيلي بلل کېده. لوکلزيو ژبه پرېښوده او له دې بار يې اوږې سپکې کړې. ده ماده راټينگه کړه او له هغه سره يې د حقيقي اړيکو په تړاو بحثونه وکړل. همدا لامل دی چې دې ده د کيسو ډېری کرکټرونه چوپ دي. تر ډېره يوازې عمل تر سره کوي او خبرې ډېرې کمې کوي. ان اصلي کرکټرونه يې هم تر ډېره چوپ وي، ان په يوه ناول کې يې د کيسې اصلي کرکټر بېخي د انسانانو په ژبه نه پوهېږي. لوکلزيو دا نه وايي چې هغه خبرې نه شي کولی، يا له خبرې کولو سره نابلده دی، خو وايي دا ژبه يې نه ده زده، د ځينو خلکو په خبرو نه پوهېږي. هغه داسې شخص دی چې تر ژبې او خبرو ډېر له طبعيت او مادې سره سروکار لري او ان کله کله مابعدالطبيعي حالت هم خپلوي.
لوکلزيو د پانامه له سورپوستو سره تر ناستې ولاړې هم دا خبره درک کړه چې دوی د ژبې او خبرو دومره پروا نه ساتي، خو دا يې هياجاني کوي چې څنگه د چلند او عمل له لارې حقايق وپېژني او له نړۍ سره تر دې ډېر ځان بلد حس کړي. همدا د يوه ليکوال رسالت دی. همدا چې پر لوستونکي جادو وکړي، انسان ته دا اسانه کړي چې د ځينو نښو نښانو له لارې واقعيتونه ووينې. دوی په کلماتو نړۍ مطالعه کوي، دوی د کلماتو له لارې کولی شي واقعيت ووينې، نړۍ ووينې او طبعيت ووينې. لوکلزيو وايي، د يوه ليکوال دنده دا ده، چې خپلې داخلي او بهرنۍ تجربې د قلم په واسطه خوندي کړي. هغه په حقيقت کې د زلزلې د ثبت د ماشين په توگه دنده تر سره کوي، په دې توگه هغه د داسې څه په لټه کې دی چې انسان طبعيت ښوروي او په انساني ژوند کې اغېز لرلی شي.
لوکلزيو له ۱۹٦۷ کال تر ۱۹۷۰ کال پورې د پانامه ځنگلونو ته لاړ او هلته يې د امبرا د سور پوستو له يوې قبيلې سره وخت تېر کړ. د سور پوستو له فرهنگ سره د ده مينه له ډېرو اثارو ليدلی شو. له ۱۹۷۰ وروسته نيو ميکزيک ته لاړ او د دې ايالت په پوهنتون کې يې د ادبياتو دوکتورا واخيسته. همدلته يې د سور پوستو د اسطورو او فولکلور په ژباړه او پلټنه لاس پورې کړ. لوکلزيو په ۱۹۸۷ کال کې د موندو او نورې کيسې (Mondo et autres histoires) کتاب خپور کړ او په ۱۹۹٦ کال کې بېرته خپل اصلي ټاټوبي ته راستون شو.
د بيابان يا دښتې ناول هم د لوکلزيو يو بل مشهور اثر دی. دې اثر يې د پل موران مشهوره ادبي جايزه گټلې ده. لوکلزيو دمگړۍ په فرانسه کې د هغو ليکوالانو له ډلې دی، چې اثار يې تر ټولو ډېر پلورل کېږي او مينه وال يې ډېر دي. ده په ۲۰۰۸ کال کې د نوبل د ادبياتو جايزه وگټله، چې له دې سره يې شهرت نور هم ډېر شو. وروسته له دې نه يوازې په فرانسه، بلکې په اروپا، امريکا او ځينو اسيايي هېوادونو کې هم د لوکلزيو نوم مشهور شو او اثارو يې لوستونکي پيدا کړل. ډېری ليکوالان وايي چې له ماشومتوبه يې له ليکوالۍ سره سرو کار نه و، خو جان ماري بيا د ډېرو ليکوالانو پر خلاف له ماشومتوبه له ليکوالۍ سره مينه لرله. داسې ښکارېده لکه ليکوالي يې چې له ماشومتوبه په خټه کې وي. له اوه کلنۍ يې ليکوالي پيل کړه. لومړنۍ ليکنه يې د سمندر په اړه يو کتاب و. دې بهير ادامه پيدا کړه تر دې چې په ۲۳ کلنۍ کې ياني په ۱۹٦۳ کال کې يې خپل لومړنی اثر وړاندې کړ او په نړيواله کچه مشهور شو. مخکې مو هم يادونه وکړه چې کتاب تر چاپ وروسته د رنودو جايزه وگټله. د دې جايزې گټل د دې سبب شول چې د ځوان جان ماري نوم د گنکور جايزې د گټونکو په لېست کې هم راشي.
نقادان په دې باور دي چې ژان ماري گوستاو لوکلزيو په حقيقت کې يو مبتکر او قانون ماتوونکی دی. دی داسې کس دی چې خپله پښه د قانون او حدودو له پولو اړوي. ليکنې يې کاملاً خلاقانه او ښکلې دي. د هغه د شهرت ستر لامل هم همدا خلاقيت او د قوانينو ماتونه ده. دی تل هڅه کوي چې د اوبو د مسير پر خلاف لامبو وکړي، خو ډېر وخت دغه لامبو ورته خطرناکه تمامه شوې ده. همدا لامل و چې په ۷۰يمه ميلادي پېړۍ کې يې خپل سبک او ليک لوری په بشپړه توگه بدل کړي. له دې وروسته يې ناولونه ناراحت کوونکي، له دردونو ډک او له عذاب مالمال نه وو. ده پرېکړه وکړه چې له لا ډېر احساس ډک ناولونه وليکي څو په دې توگه لا ډېر لوستونکي خپل کړي. ډېری ليکوالان په دې باور دي چې د جان ماري دا کار او د مسير بدلول تېروتنه نه وه، بلکې هغه بايد خپل سبک ته ادامه ورکړې وای. منتقدان وايي چې بايد خپل اصلي سبک په ليکوالۍ کې تر پايه وساتل شي. بلخوا بيا ډېر ليکوالان په دې باور دي چې هغه د مخاطبانو لپاره ليکل کوي، نو بايد د دوی خبرو ته درناوی ولري او د دوی خبرې واوري. له دې ټولو سره سره جان ماري گوستاو لو کلزيو يو پياوړی ليکوال دی. د هغه بيابان نومي ناول هم ډېرې جايزې گټلې دي. د فرانسې د ادبياتو اکاډمي ورته په درنه سترگه گوري او هغه د فرانسې په تاريخ کې يو له مهمو او پياوړو ليکوالانو بولي. د دې تر څنگ په ۱۹۹۴ کال کې په فرانسه کې د يوې معتبرې ادبي مجلې له لوري يوه نظرپوښتنه وشوه، په دې نظر پوښتنه کې ډېری فرانسويانو ويلي وو چې جان ماري د فرانسې د ادبياتو په تاريخ کې يو له تر ټولو پياوړو او سترو ليکوالانو دی. د نقادانو په باور دا يو ستر وياړ دی چې ډېر کم کسان به يې تر لاسه کړي، ځکه فرانسه له لسيزو راهيسې په ادبياتو، ادبي بحثونو او ادبي توليداتو کې خورا ستر نوم دی.
جان ماريو ډېر اثار ليکلي دي چې ځينو ته يې لنډه کتنه کوو. تر ټولو مشهور کتاب يې د سرو زرو پلټونکی نومېږي. دا کتاب د دې ځوان ليکوال له تر ټولو مشهور او له عواطفو ډک اثر دی. ښکلې صحنې لري چې هېڅ وخت به مو هېرې نه شي. په دې کتاب کې د يوه انسان د ژوند وضعيت انځور شوی دی. د الکسيس په نامه يو ځوان په کلي کې له خپلې کورنۍ سره جنتي ژوند لري. هغه د فلکياتو په اړه او همدا راز د بوټو په اړه خبرې او پلټنې کوي. يو وخت د ورک شوي او پخواني خښ شوي گنج يا سرو زرو په پيدا کولو پسې وځي. له دې وروسته يې ژوند جنجالي کېږي او له لارو گودرو تر تېرېدو وروسته د لومړۍ نړيوالې جگړې ډگر ته رسېږي. ښکلی نثر لري، شعر ته په ورته نثر يا موزون نثر ليکل شوی دی. لوستونکی يې له لوستلو خوند اخلي او په زړه پورې صحنې او پېښې يې دی له ځان سره بيايي.
تر ټولو مهم اثر يې بيا بيابان يا بېديا نومېږي. د سويډن د ادبياتو اکاډمۍ د دغه کتاب له امله په ځلونو د جان ماريو ستاينه کړې ده. د دې کتاب موضوع يې ډېره خوندوره او مهمه بللې ده. دا ناول لومړی ځل په ۱۹۸۰ کال کې چاپ شو. په دې کتاب کې دوه بېل داستاني موضوعات مخ ته وړل کېږي. په دې کتاب کې د يوه ځوان هلک او څو بدنامه جنگياليو کيسه راغلې ده. جنگيالي د فرانسوي ځواکونو د حضور له امله له خپلې خاورې شړل شوي دي. دوی د يوه مشر او رهبر په لټه کې وي، تر دې چې له دې ځوان هلک مرسته غواړي. په دې ناول کې د لالا په نامه هم يو کس شته. دا د دې جنگياليو لمسی وي. په ناول کې رهبرۍ ته د رسېدو، د مشر کېدلو، جگړو، مبارزو او يوې مينې جالبې صحنې راغلې دي. د نقادانو په باور دا ناول رښتيا هم په لوستلو ارزي.
په ۲۰۰۸ کال کې د ادبياتو په برخه کې د نوبل بنسټ اعلان وکړ چې د دې کال د جايزې گټونکی يې گوستاو لو کلزيو دی. نوبل بنسټ وويل چې د هغه په ناولونو کې نانديرۍ او په احساساتو کې د لوستونکي ډوبول تر ټولو مهمې ځانگړنې دي. د کمېټې غړو وويل چې د ده اثارو په چاپېريال ساتنه کې خورا ډېر ارزښت لري. د نوبل بنسټ ويلي، لوکلزيو يو مبتکر او ځانگړی ليکوال دی. شاعرانه نانديرۍ جوړوي، احساسات لېږدوي، خپله پښه له انساني محدودو اړوي او د يوه نوي انساني تمدن د جوړېدو او رامنځ ته کېدو په لټه کې دی.

همیانی

# د نارینه وو د خیانت پنځه لاملونه

ژباړه: ملیحه ناصري

هر انسان فطرتاً ځیني غرایض لري، ځوک یې په یو ډول اشباع کوي او ځوک یې په بل ډول پوره کوي. خیانت لکه له نومه یې چې ښکاري، د امانت ضد دی، یا هم په انساني اړیکو کې د یو چا له ټینګ باوره ناوړه ګټه اخیستنه ده. پوهېږم چې تاسو پر اصلي موضوع پوه شوي یاست چې د دې لیکنې اصلي هدف څه دی او د څه لپاره دا خبره کوو. راځو هغو لاملونو ته چې نارینه له خپلې مېرمنې/کوژدنې سره خیانت ته اړ باسي.

**۱-نابالغیت**

کله چې انسان له جسمي پلوه ستربږي، د نارمل انسان په توګه یې فکر هم بلوغ ته رسېږي. مانا هر هغه څه چې باید پر عقل او منطق برابر وي، پېژني یې او عمل پرې کوي. د ژوند ټول اړخونه په یوه پرېکړه کې په پام کې نیسي؛ خو له فکري پلوه نابالغ نارینه پر دې نه پوهېږي چې له اسلامي او انساني پلوه کله چې په یو تار له یوې نجلۍ سره وتړل شو، باید جسماً او روحاً ځان همغې پورې اړوند وګڼي. خو له بده مرغه ډېری نارینه بیا دې ته اړیکي ته د ارزښت په سترګه نه ګوري او هغه ده چې دا اړیکه یې ورځ تر بلې پیکه کېږي او هغه خوند چې دا اړیکه یې لري، له منځه ځي. ښه ده چې موږ په ټوله مانا په عاطفي او جسمي لحاظ ځان یوازې هغه کس پورې وتړو، چې زموږ د ټول ژوند تړلو تار ورسره جوړ شوی.

**۲-ځان‌خوښونه**

له ځان سره تر حده وتلې مینه د دې لامل کېږي چې انسان ځان تر نورو انسانانو هسې ستر او لوړ وګڼي. د دوی ډېری اړیکې د بېځایه غرور او ځان‌ښودنې له امله خرابېږي. د دې اړیکو له ډلې څخه یوه هم له خپلې مېرمنې/کوژدنې سره اړیکه ده. ځیني نارینه فکر کوي چې دی خپلې مېرمنې ته نه و جوړ، یا هغه ورته جوړه نه وه. ښه، که همداسې هم وي؛ نو اوس د یوه ژمن انسان په توګه باید ځان اړ وګڼي چې بشپړ د همغې شي. خیانت یا د هغې دوکه کول حلاره نه ده او نه کېدلی شي. د وخت په تېرېدو سره به دی هم پوه شي چې هغې ته د ځان منسوبول یې د ژوند تر ټولو غوره پرېکړه وه؛ ځکه له نومبدۍ او سپکېدو بچ کېږي. لومړی خو ښه ده چې له یو چا سره د ګډژوند اړیکې ټینګولو مخکې باید هغه په پوره مانا وپېژندل شي او بیا دا اړیکه ورسره ټینګه شي، خو که چېرې تاسې دا کار مخکې له مخکې ونه کړی او د مور او پلار او یا هم کوم بل خپلوان او یا هم دوست په واسطه له یو چا سره د ګډژوند اړیکه جوړه کړی، بیا نو ښه ده چې د هغه پوره خیال وساتئ او په هېڅ لحاظ ځان پر هغې لوړ ونه ګڼئ.

**۳-پخوانۍ مینه**

ځیني نارینه چې تر کوژدې دمخه مین شوي وي، د خپلې مېرمنې نه خوښونې لپاره یو استدلال یې دا وي چې زه پخوا مین وم، اوس مې دې ته زړه نه ورګډېږي. دا خبره د ځان دوکه کول دي؛ ځکه نور خبره مالومه ده چې مینه یې بایللې ده. دې جملې ته باید غور وکړي چې: «زه پخوا مین وم!». دلته جمله په(پخوا) مقیده شوې، ایا د هوښیار انسان په توګه اړتیا شته چې د تېر/ماضي له وجې اوسمهال وران/خراب شي؟

نه! ځکه انسان په اوسمهال کې اوسي، هغه باید له پرون څخه عبرت واخلي او سبا ته چمتووالی ونیسي. د دې نارینه (مینه) پرون وه، نن او سبا یې همدا مېرمن ده چې خدای ورکړې. که چېرې یوه- دوې میاشتې له دې سره هم د مینې تمثیل وکړي، خدای یې د زړه حالت وربدلولی شي او هغه ده چې بیا به ښه او خوشاله ژوند کوي. که تاسې هم داسې شوي وی، په هېڅ وجه مو نور ځان په پخوانۍ مینه پورې مه تړئ، ټوله مینه او عواطف مو نوې اړیکې ته ځانګړې کړئ.

**۴-ټولنیز دریځ**

هر انسان په ټولنه کې یو دریځ لري. همدا ټولنیز دریځ د دې لامل کېږي چې ځیني نارینه خیانت وکړي. په ماغزو کې د خیانت فکرونه روزي او بالاخره لاس پکارېږي. دا ډول نارینه چې تحصیلي، کورنۍ سطحه او ټولنیز دریځ یې تر کوژدنې/مېرمنې لوړ وي، هڅه کوي چې د خیانت له لارې له خپلې مېرمنې د دې کمې غچ واخلي. حال دا چې دا کار د دوی د شعور پر کمښت دلالت کوي، دا مانا لري چې پخپله سرې هم څندان زده کړې نه دې کړې؛ ځکه هغه زده کړه چې انسان فکري بلوغ ته ونه رسوي، هسې وخت لګول دي. په خیانت خپل، د مېرمنې او کورنیو ژوند ورانېږي، سمبېږي نه. دوی دې پر خپله بېسواده مېرمن داسې کار وکړي چې هغه پر دې پوه شي چې باسواد یا پوه انسان سره اوسېدل په رښتیا هم انسان بدلوي.

**۵-شتمني**

شتمن یا بډای نارینه د خپلو پیسو د ډېروالي له کبله ځان ته دا اختیار ورکوي چې هر وخت وغواړي، خیانت کولی شي. شتمني که په ناوړه لار مصرف شي، هغه پر اور باندې بدلېږي چې آن راتلونکی دویم/درېیم نسل هم سوځوي. یوه ورځ هرومرو له دې خیانتونو پرده پورته کېږي. د افغان په توګه کله چې نیکه او پلار د چا بدنام شي، راتلونکي ټول نسلونه د تېرو مشرانو د کړنو پېغورونه اوري. تر ټولو مهمه خبره دا ده چې په دې کار سره یوازې نومبدي نه ګټي، بلکې د خپلې مېرمنې اروا ځپي او له مینځه یې وړي. بیا یې که څومره جبران هم کړي، ځای نه نیسي. که تاسې شتمن وی او خدای دا نعمت درباندې لورولی وي، ښه ده چې دا شتمني مو د کورنۍ او بیا په تېره د مېرمنې/کوژدنې د خوښۍ سبب شي. په خپله شتمنۍ د هغوی نېکه پالنه وکړئ او هغه اړتیاوې یې پوره کړئ، چې د دوی مسلمه حق پر تاسې جوړېږي. هېڅ وخت خپله شتمني د نورو د ځورولو لپاره مه مصرفوئ، ځکه په دې کار سره هم خدای خپه کېږي او هم د مقابل لوري زړه ماتوی، ستاسې شتمني باید د نورو د خوښۍ او موسکا سبب شي او تر هرڅا تاسې له دې کار زیات خوند واخلئ.

# افغان رسنیز او څېړنیز مرکز د شیخ حمد د ژباړې نړیواله جایزه تر لاسه کړه

افغان رسنیز او څېړنیز مرکز د شیخ حمد د ژباړې او تفاهم نړیواله جایزه تر لاسه کړه. دغه جایزه د نړۍ په کچه د ژباړې او فرهنګونو د ودې او پرمختګ په موخه د (شیخ حَمَد) د جایزې د بنسټ له لوري له عربي ژبې څخه نورو او عربي ژبې ته د معیاري ژباړو او علمي خدمتونو په برخه کې ورکول کېږي.

افغان رسنیز او څېړنیز مرکز چې موسس او مشر یې عبدالجبار بهیر دی، د عربي او پښتو ژبو تر منځ لسګونه کتابونه، علمي او ښوونیز اثار ژباړلي دي. پر دې سربېره، نوموړی مرکز د عربي نړۍ په کچه د مطبوعاتو په ډګر کې د یو خپلواک افغان څېړنیز او مطبوعاتي مرکز په توګه منل شوی او پېژندل شوی بنسټ بلل کېږي، چې د هېواد د علمي، ښوونیز او ټولنیز وضعیت په تړاو یې رغنده رول لوبولی او په نړیوالو علمي او اکاډمیکو کنفرانسونو کې یې د افغانستان استازولي کړې ده.



نوموړې جایزه هرکال د نړۍ په کچه د ژباړې او علمي پرمختګ په برخه کې ورکول کېږي او روان کال د یادې سیالۍ د شپږمې دورې په لړ کې له ۴۲ هېوادونو څخه تر ۳۰۰ زیات بنسټونه او کسان نوماند وو او د پښتو او عربي ژبو د ژباړو په برخه کې له افغانستان او پاکستان څخه بېلابېلو ژباړنو او علمي ادارو خپل اثار وړاندې کړي وو، چې له افغانستان څخه افغان رسنیز او څېړنیز مرکز ته دا نړیواله جایزه ورکړل شوه.

د یادې جایزې په تېرو پنځو دورو کې د انګلیسي، ترکي، هسپانوي، فرانسوي، الماني، چینایي، جاپاني، روسي ژبو ژباړې د دې جایزې لپاره غوره شوې وې.

د (شیخ حَمَد) د ژباړې او تفاهم نړیواله جایزه په ۲۰۱۵ز کال کې د قطر د پخواني پاچا شیخ حَمَد په نوم رامنځته شوه، چې له عربي ژبې او یا عربي ژبې ته د ژباړل شوو علمي اثارو او تالیفونو د ستاینې او وياړنې په برخه کې فعالیت لري او د دوو میلیونو امریکایي ډالرو په ارزښت د نړۍ تر ټولو لوړه جایزه بلل کېږي.

د (شیخ حَمَد) د ژباړې نړیواله جایزه د هر میلادي کال په پای کې په لاندې دریو برخو کې غوره شوو ژباړو ته ورکول کېږي:

لومړی: د عربي او انګلیسي سربېره، د یوې بلې نړیوالې ژبې تر منځ ژباړې، چې د هرې ژبې لپاره دوه سوه زره امریکایي ډالر ځانګړي شوي دي. له دې سربېره د یادو غوره شوو دوو ژبو د ژباړو په برخه کې د پرمختګ او لاسته راوړونکو اشخاصو او ادارو لپاره، دوه سوه زره امریکایي ډالر ټاکل شوي دي.

همدا راز په کلنۍ توګه د عربي او پنځو غوره شوو ژبو تر منځ د ژباړو او ژباړونکو ادارو لپاره، یو میلیون ډالر جایزه غوره شوې چې په روان ۲۰۲۰ز کال کې د فارسي، کوریایي، هوساوي، سویډني، بنګالي تر څنګ پښتو ژبه هم دې جایزې ته غوره شوې وه.

# مصالحې شورا: د سولې خبرې دې له ځنډ پرته پر ټاکلي وخت بېرته پیل شي

د ملي مصالحې عالي شورا مرستیال اسدالله سعادتي وايي، د سولې خبرې باید بې له ځنډه په خپل ټاکل شوي وخت بېرته پیل شي.

که څه هم د افغانستان دولت او طالبانو ترمنځ د سولې راتلونکی پړاو خبرې د مرغومې تر ۱۵مې د دواړو لوریو په هوکړه ځنډېدلې، خو ښکاري چې د خبرو بیا پیل ته لېوالتیا ډېره ده. د ملي مصالحې عالي شورا وايي، دوی هیله مند دي چې دا خبرې په خپل ټاکل شوي وخت بیا پیل شي.

د دې شورا مرستیال اسدالله سعادتي وايي، افغانان په هېڅ ډول نه غواړي چې د سولې خبرې وځنډېږي؛ ځکه په خبرو کې ځنډ د سولې لپاره رامنځته شوی فرصت له زیان سره مخ کوي.

سعادتي چې د ښې حکومتولۍ د مطالعاتو انستیټیوټ له خوا یې «ځوانان او د سولې په اړه لیدلوری» په نوم جوړې شوې غونډې کې خبرې کولې، د سولې په خبرو کې د دواړو لورو ترمنځ مطرح شوي نظریات ډېر متفاوت یاد کړل، خو د خبرو بیا پیل یې د دې اختلاف د پای لپاره مهم وباله.

د هغه په خبره: «هېڅ یو لوری، نه موږ یانې د مصالحې عالي شورا، د افغانستان دولت، اسلامي جمهوري نظام او نه طالب باید په هېڅ شرایطو او هېڅ بهانې د خبرو بیا پیل له ټاکل شوې مودې ان یوه ورځ هم وروسته نه کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې تېره اونۍ د افغانستان دولت او طالبانو مذاکره کوونکو پلاوو د اجنډا په اړه یوه او بل ته د خپلو وړاندیزونو د نوملړ له سپارلو وروسته، هوکړه وکړه چې دا خبرې د ۲۱ ورځو لپاره د نورو سلا مشورو په خاطر وځنډوي، خو د افغانستان دولت د مذاکره کوونکي پلاوي یو غړی د بل پړاو خبرو پیل له ننګونو ډک بولي.

امین واحدي وايي، دویم پړاو خبرې به پر اصلي موضوعاتو چې د سولې خبرو منځپانګه ده، را وڅرخېږي. واحدي اوربند او د راتلونکي نظام څرنګوالی د دې پړاو خبرو له ننګونکو موضوعاتو دوه مهم یادوي. نوموړي زیاته کړې: «لومړۍ غوښتنه دا ده چې څه ډول جګړه پای ته ورسوو، تاوتریخوالي له‌منځه یوسو. دویمه غوښتنه دا ده چې څه ډول د افغانستان د اسلامي جمهوریت له ارزښتونو دفاع وکړو او داسې سوله راولو چې هغه سوله په حقیقت کې د افغانستان د اسلامي جمهوریت له ارزښتونو سره برابره وي.»

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷ |
| € | ۹۳,٤ |
| Rp. | ٤٨٢ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۲,۳ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایگل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



سه شنبه د ۱۳۹۹ د مرغومې دویمه | د ۲۰۲۰ د ډسمبر ۲۲مه | ٦٥٠مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
| --- | --- | --- | --- | --- | --- |
| ۸ | ۱۲ | ۷ | ۸ | ۲۰ | ۸ |
| -۲ | ۲ | ۱ | ۲ | ٤ | ۳ |

شرعي وختونه: سهار ۰۵:۲۷ | لمر ختل ۰۶:۵۶ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۰۹ | ماښام ۰٤:٤۸ | ماخوستن ۰٦:۱۸

## نړۍ




### تازه شمېرې:
## په نړۍ کې د کرونا له کبله د مړو شمېر تر ۱.۷ میلیونو واوښت




د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۷۷ میلیونه او ۲۷۱ زره او ۴۴۰ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۷۰۱ زره او ۷۰۱کسان مړه شوي او له ۵۴ میلیونه ډېر ترې ببرته رغبدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۸ میلیونه او ۲٦۷ زره او ۵۷۹ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۳۲۴ زره او ۸٦۹ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د لس میلیونه او ۵٦ زره او ۲۴۸ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د اووه میلیونه او ۲۳۸ زره او شپږ سوو مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، روسیه د دوه میلیونه او ۸۷۷ زره او ۷۲۷ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او فرانسه د دوه میلیونه او ۴۷۳ زره او ۳۵۴ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز برېټانیا، ترکیه، ایټالیا، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## پومپیو: په بغداد کې د امریکا پر سفارت برید کوونکي به سخت وځپل شي

وروسته له هغې چې تېره ورځ د عراق په پلازمېنه بغداد کې د امریکا پر سفارت راکټي برید وشو، د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزیر مایک پومپیو د دغه برید مسوول ایران بللی دی.

نوموړي پر خپل ټویټر لیکلي، ایران په ښکاره او بې رحمانه توګه د خپلو لاسپوڅو په واسطه یوځل بیا عراق کې د امریکا پر سفارت د برید په ترځ کې دوه عراقي نظامیان ټپیان کړي دي. نوموړي زیاته کړې، دا فاسد او جنایتکاره وګړي به د سیمې د بې ثباته کولو له امله د خپلو دغو بې رحمانه اعمالو په سزا ورسېږي او سخت به وځپل شي. د یادونې ده چې عراقي ځواکونو د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي وو چې یوې غیرقانوني وسله والې ډلې د عراق په شنه ساحه کې د امریکا پر سفارت اته راکټونه توغولي دي. خبرپاڼه کې ویل شوي چې یاد بریدونه ځاني زیان نه لري، خو ډېر مالي زیانونه یې اړولي دي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې امریکایي چارواکو عراق ته خبرداری ورکړی و، چې که په یاد هېواد کې د امریکایي تاسیساتو امنیت خوندي نه کړي، خپل ټول پوځیان به له دغه هېواده وباسي.

## رحمت‌الله نیک‌زاد خبرنگار الجزیره و اسوشیتدپرس در غزنی ترور شد




پولیس غزنی تأیید می‌کند که رحمت‌الله نیکزاد، رئیس اتحادیهٔ خبرنگاران غزنی و خبرنگار تلویزیون الجزیره و اسوشیتدپرس شام دیروز در حملهٔ افراد مسلح ناشناس در برابر خانه‌اش در شهر غزنی، جان باخت.

به گفتهٔ مقام‌های محلی، آقای نیکزاد به عنوان خبرنگار با شبکهٔ الجزیره، خبرگزاری اسوشیتد پرس و دیگر خبرگزاری‌ها، کار کرده‌است.


این پنجمین خبرنگار است که در کمتر از دو ماه در افغانستان، کشته می‌شود. تاکنون هیچ گروهی به شمول طالبان مسؤلیت این حمله را، به عهده نگرفته‌است.

پیش از این، شماری از خبرنگاران بر بررسی رویدادهایی تأکید می‌ورزند که در بیشتر از یک ماه اخیر، جان‌های کارمندان رسانه‌ها را گرفتند. آنان بدین باورند که اگر نهادهای امنیتی در این راستا بی پروایی کنند، رفته رفته آزادی بیان در کشور، صدمه جدی خواهد دید.

این خبرنگار، آماج قرارگرفتن خبرنگاران را در هفته‌های اخیر در کشور، نگران کننده گفته‌اند. هفتهٔ گذشته، دبورا لاینز، نمایندهٔ ویژهٔ سازمان ملل در افغانستان گفت که تنها در سال روان میلادی، شش خبرنگار و ده تن از مدافعان حقوق‌بشر در افغانستان جان‌های شان را از دست داده‌اند. او بر بررسی این رویدادها از سوی حکومت افغانستان، تأکید کرد. اما به گفته خبرنگاران و نهاد های مدافع خبرنگاران می گوید که حکومت تا اکنون در این عرصه دست آورد خاصی ندارد.

## ژوند

## نوکیا خپل لومړنی لپټاپ معرفي کړ



نوکیا کمپنۍ خپل لومړنی لپټاپ معرفي کړ. دغه لپټاپ نوکیا پیوربک اېکس۱۴ نومول شوی او هندوستان کې به خرڅلاو ته وړاندې شي .دغه لپټاپ ۱۴ انچه فول اېچ ډي ډوله مخپاڼه او ۱،۱ کیلوګرام وزن لري. پیوربک ۱۴ به یوازې تور رنګ کې د ډسمبر په ۱۸مه په هندوستان کې د فلیپ کارټ له لارې په پرلیکه توګه خرڅلاو ته وړاندې شي. د نوکیا کمپنۍ د دغه لپټاپ مخپاڼه ۱۹۸۰*۱۰۸۰ پکسل ریزلوشن لري او له ډولبي وېژن څخه هم ملاتړ کوي. پیوربک اېکس۱۴ نومي دغه ځیرک موبایل کې د اینټل کمپنۍ کور ای۵ پروسېسر او التړا اېچ ډي ګرافیکس ورکړل شوی دی. دغه لپټاپ به ۸ ګېګابایټ رم او ۵۱۲ ګېګابایټ د فایل ثبتونې وړتیا ولري. اوسمهال پرې اډر لپاره د دغه لپټاپ بیه ۵۹،۹۹۰ هندي کلداري ټاکل شوې ده، خو خرڅلاو ته له وړاندې کېدو څخه وروسته به یې بیه تر دې لوړه وي.

## څنګه کولی شو چې خپل د بدن هډوکي قوي کړو؟

زموږ د بدن ټول حرکات د هډوکو په مرسته تر سره کېږي. هډوکي مړه انساج نه دي؛ بلکې د ژوندیو حجراتو په درلودلو سره همېشه د خرابېدو او مجدداً جوړېدو په حال کې دي. که چېرې له ۲۵ کلنۍ وروسته د خپلو هډوکو مراقبت ونه شو کړای، په دې صورت کې د هډوکو خرابېدل تر دوباره جوړېدو زیاتېږي او د وخت په تېرېدو سره هډوکی نرۍ، ضعیف او په لوړ سن کې د هډوکي پوکی یا osteoprosis چې د هډوکي د ماتېدو سبب کېږي، منځ ته راولي.

۱- د ضرورت په اندازه پروټین وخورئ!
پروټین د کلاجن رشتو په جوړولو سره د هډوکو اسکلېټ تشکیلوي او هم په عضلاتو کې ستر رول لري.

۲- په مناسب وخت له سبزیجاتو ګټه واخلئ!

۳ـ کلسیم لرونکي خواړه مصرف کړئ!
که په غذا کې په کافي اندازه کلسیم نه وي، نو د هډوکو کلسیم کمېږي او په نتیجه کې د هډوکو د ماتېدو احتمال زیاتېږي. کلسیم په لبني محصولاتو، سوپ، سبزیجاتو، مغزیاتو او انځرو کې شته.

۴ـ حرکت یا فزیکي فعالیت باید ولرئ!
دورځې کم تر کمه باید نیم ساعت سپورټ وکړئ.

۵- ویټامینونه او منرالونه د ضرورت په اندازه واخلئ!
مګنیزیم، پوټاشیم، ویټامین C او ویټامین K .
پورتني مواد په مېوو او سبزیو کې په پوره اندازه پیدا کېږي.

٦- د زیاتې مالګې د خوړو عادت پرېږدئ!





عزیزي بانک
Azizi Bank

د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه

عزیزي بانک خپلې د ازي پې بڼوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي

مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې ستور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.

www.azizibank.af 1515